**مطبوعاتي اعلاميه**

**د ۱۴۳۸ه ق د شوال میاشتې د لیدل کېدو د پایلې اعلان او د نېکمرغه کوچني اختر د مبارکۍ پیغام**
**(ژباړه)**




**الله اکبر الله اکبر الله اکبر، لا اله الا الله... الله اکبر الله اکبر، ولله الحمد...**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه ومن تبعه فترسم خطاه، فجعل العقيدة الإسلامية أساساً لفكرته، والأحكام الشرعية مقياساً لأعماله ومصدراً لأحكامه، أما بعد...

احمد له محمد بن زیاد څخه روایت کوي چې ویې ویل: له ابو هریره رضی الله مې واورېدل چې رسول الله صل الله علیه وسلم و فرمایل:

**«صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ».**

*ژباړه: د روژې میاشتې په لیدو سره روژه ونیسئ او د شوال میاشتې په لیدو سره روژه ماتې وکړۍ، که میاشته پیکه وه او په لیدو یې ونه توانیدئ د روژې دېرش ورځې پوره کړئ*

په دې مبارکه شپه د شوال میاشتې د لیدو د پایلې له اعلان وروسته؛ په یو شمېر اسلامي خاورو کې د شوال میاشت شرعا ثابته شوه؛ نو د یکشنبې شپه د شوال میاشتې لومړۍ او د نېکمرغه کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.

په همدې مناسبت، د حزب التحریر امیر قدرمن عالم عطابن خلیل ابو رشته حفظه الله ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه کوچني اختر مبارکي وايي... او له الله سبحانه وتعالی هیله لري چې پرمورږ د نبووت پرتګلاره د راشده خلافت د جوړولو مهنت وکړي چې اسلام د ځمکې پرسره پلی کړي او د اسلام به پیام نړیوالو ته د روښنایي او لارښود په توګه ولېږدوي؛ عادل دولت چې اسلامي خاوره خپلواکه او خلک یې په واحد صف کې دروي؛ هغه دولت چې جهاد او پخواني فتوحات په یاد راوړي او مسلمانو ته په اختر کې درناوی کوي او همداراز به فتوحاتو کې الله اکبر الله اکبر الله اکبر؛ لا اله الا الله، الله اکبر الله اکبر الله اکبر، و الله الحمد په ژبه راوړي...

له همدې امله د اختر د مبارکۍ پيغام د حزب التحرير له مرکزي مطبوعاتي دفتر څخه، ټولو دعوتکوونکو، د حزب التحرير امير او نورو مسلمانانو ته تبريک وايم، هغه عيد چې الله سبحانه وتعالی هغه روژه لرونکو ته تفريح ګڼلي او د مسلمانو وحدت ښيي. د يادولو وړ ده چې مسلمانان واحد امت وو.

...اې د نړۍ مسلمانانو

له الله سبحانه وتعالی هيله مند يم چې روژه، قيام، رکوع، سجدې او ګڼ شمېر نورې نېکې کړنې په خپله درګاه کې قبولې کړي؛ او هيله مند يم چې دغه اختر د دې لامل شي چې اسلامي امت د عادل او راشد خليفه چې له الله وېره ولري او تر شا يې جګړه کېدای شي، عزت ترلاسه کړي. داسې خليفه چې د الله په کتاب او د رسول الله صل الله عليه وسلم په سنتو رهبري کوي او په ريښتيا چې دا کار قادر او توانا الله ته ستونزمن نه دی.

نېکمرغه کوچنی اختر د الله له لوري پرمسلمانانو فضل او رحمت دی؛ هيله لرو چې داسې عيد وي چې د الله سبحانه وتعالی ژمنه او د رسول الله صل الله عليه وسلم زېری، په نصر او تمکين او د داسې دولت په تاسيس چې د الله په شريعت حکم وکړي؛ د راشده دولت خلافت د نبووت پر تګلاره، په واقعيت بدل شي.

د هغې ورځې په طمع يو چې د اختر خوښي د وضعي نظامونو او د استعمارګرو کفارو د مزدورانو د نابودۍ؛ هغوی چې الله، رسول او مومنانو ته خيانت کړی، ونمانځو. ترڅو اسلامي امت د اختر خوښي د اسلامي امت د توحيد په انرژۍ ونمانځي؛ ترڅو وي چې د اختر خوښي تراسلامي ژوند لاندې په ټولو سياسی، اقتصادي، ټولنيزو او تعليمي او داسې نور برخو کې ونمانځي. ترڅو د اختر خوشالي په داسې حالت کې تېره کړي چې د اسلام ستره کيان يې تاسيس کړی وي؛ د نبووت پر تګلاره خلافت.

نو له اخترونو څخه دا اختر او د موخو د تحقق لپاره کوم عمل چې له تاسو غوښتل شوی؛ د دې لامل شي، چې دا د هغو مخلصينو وروستی اختر وي، چې د دين د عزت او تمکين او د ښکاره فتح د لوړولو لپاره کار او مبارزه کوي.

**الله أكبر الله أكبر الله أكبر... لا إله إلا الله**

**الله أكبر الله أكبر.. ولله الحمد**

**الله أكبر كبيرا والحمد لله كثيرا وسبحان الله بكرة وأصيلا**

**لا إله إلا الله وحده... صدق وعده.. ونصر عبده.. وأعز جنده وهزم الأحزاب وحده**

**لا إله إلا الله.. ولا نعبد إلا إياه.. مخلصين له الدين ولو كره الكافرون**

اختر مو مبارک طاعات او عبادات مو د حق په درګاه کې قبول والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

د ۱۴۳۸ د يکشنبې لومړۍ شپه د شوال مياشتې لومړی.

د ۲۰۱۷ د جون ۲۵

**دوکتور عثمان بخاش د حزب التحرير د مرکزی مطبوعاتی دفتر مشر**